محمدایاز نوری
۲۰۱۶/۰۱/۰۲

# حبيب الله (سقاو زوی)، بيا د تاريخ په تله کې

د هر وطن پال افغان په زړه کې واقع، امانيست ليکوال او د تاريخ څېړوونکی اکاديمسن اعظم سيستاني، بيا قلم راخستی او د ( تکمله ای بر کتاب: حبیب الله کی بود، عیاری از خراسان یا دزدی از کلکان؟ ) تر عنوان لاندې يې په اوو څېرکو کې زمونږ د ګران افغانستان د نژدې تاريخ يوه مهمه خو ډېره خواشينوونکې او له شرمه ډکه پاڼه،چې هلته په کې په واضحه توګه يو ملي خيانت تر سره شوی دئ، راسپرلي ده.

استاذ سيستاني ته دا وار د پردېتوب په تاټوبي کې د هيواد دوست او افغان دوست شخصيت او ليکوال مرحوم ملا فيض محمد کاتب هزاره کتاب، « تذکر انقلاب » چې د محترم علي اميري په زيار او ملي احساس چاپ ته ورکړل شوی دئ، په لاس ورغلی او په هر څېرکي يې په هره موضوع خپل عالمانه نظرهم پرې ليکلی دئ. لکه په لومړي څېرکي، چې لولو: " په دې کتاب کې د افغانستان سياسي پېښې د ۱۹۲۸ ز کال د دسمبر ( يوه مياشت د اماني دولت د راپرزېدو د مخه ) تر اګست د ۱۹۲۹ زکال ( د لينډی د ۱۳۰۷ نه تر وړې د ۱۳۰۸ ل کال) پورې پېښې او د سقاو زوی حبيب الله د حکومتولی د څرنګوالي حال په ورځنيځ ډول ثبت شوی دئ"، کولای شو د کتاب په تاريخي ارزښت پوی شو.

د هيواد افغانستان په معاصر تاريخ کې د اعليحضرت امان الله خان تبادله کېدل د غله حبيب الله سره، دا داسې يوه لويه ملي غميزه ده، چې د افغانستان ولس يې تر نن پورې زجر او ربړ وباسي. د فيض محمد کاتب په کتاب او په حاضر د استاذ سيستاني په تقديم کې دغه مهمه او دردمنده مسله څېړل شوې ده.

غازي امان الله خان تر ۱۳۳۹ لمريز هجري کال پورې په دې دنيا کې ژوندی وه، که دا د افغانستان په آبادي او افغان ولس مين شخصيت ترهم دغه کال پورې د افغانستان پاچا پاتې شوای وای، سالم منطق خو حکم کوي، چې بيا نو زمونږ په هيواد کې نه کومې عسکري کودتا او نه هم کوم ولسي بغاوت ته حاجت او امکان او يا هم ضرورت پاتې کېده. نن به د هر افغان پت او عزت خوندي وای، کوم، چې نن يې نلرو. اوس چې مسله تر دې حده مهمه ده، آيا اړينه نه ده، چې د دغه تاريخي تحول سره په ډېر غور او ملي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مسوولیت چلند وکړو، نه یواځي په حقایقو ځان خبر کړو، بلکي د یوه بیدار وجدان پر بنا هغه قبول هم کړو؟

که د حاضر تحلیل ته، چې مرحوم کاتب خپل د سترګو لیدلای حال په کې ذکر کړی دئ، حبیب الله سقاو زوی او داړي یې، د خپلې ناروا واکمنی په ترڅ کې، غلا کړې، د خلکو په ښځو یې نه اسلامي تجاوز کړی، ناروا قتلونه یې اجراء کړي، درواغ یې ویلي دي، په قران مجید یې خپل قول مات کړئ، زمونږ د ملت د دښمن انګرېزي استعمار سره یې د ملي ګټو پر ضد عمل کړئ دئ او منافقت یې کړئ دئ، ایا داسی یو افغان شخصیت او افغان پاچا ته مونږ «عیار»(باناموسه او ځوانمرده) او خادم دین رسول الله ویلی شو؟ هیڅکله نه!!

پوره یو کال د مخه یعنی د ۲۰۱۴ز کال د دسمبر د میاشتې په ۱۴ نیټه یو شمېر زمونږ افغانانو، ( البته د افغان والی حق یې ساتلی او محفوظ دئ، ځکه دوی ټول په افغانستان کې زېږېدلي او د افغان ملت د مالیې د پیسو نه یې زده کړه کړې)، د پروفیسور رسول (رهین) تر مشرتوب لاندې یې زمونږ د تاریخي دښمن، انګلستان پلازمیني لندن کې په داسی حال کې، چې د انګلیس د استخبارات او د پولیسو د ډاډمند امنیت نه مستفید ول، همدغه ملي خاین سقاو زوی حبیب الله د یوه مبتذل مجلس په ترڅ کې (**جایگاه والای شاه حبیب الله کلکانی در تاریخ معاصر افغانستان** ) تر عنوان لاندی ، ولمانځه. اوس، چې دا د افغانستان د ملت دښمنان دغه د مرحوم کاتب هزاره تاریخي د سترګو لید د سقاوي حبیب الله د واکمن کېدو او پس له هغه نه د هغه د نهو میاشتو د شرم نه ډکو ملي او شخصي ضد اعمالو لړې لولې، ایا دوی ته ښایسته ده، چې د هغې لندني سقاوي غوندې د جوړولو نه بیرته د افغانستان د مظلوم لیکن قهرمان ملت نه یوه بخښنه وغواړي؟

د دې غوندې د تدویر نه پس بیا یو شمېر په وطن او ملي ګټو مین افغانان، چې په سروال یې ګران استاذ سیستاني وه، د خپلو قلمونو سره ډګر ته راووتل او څه چې حقایق ول، هغه یې د سقاو زوی او اماني دولت په باب افغان ولس ته تقدیم کړل. د همدې لندني غوندې له برکته وه، چې د یوه مرموز افغان شخصیت خلیل الله خلیلي اصلي څهره د تاریخي سپینو اسنادو او حقایقو په رنا کې د استاذ سیستاني په قلم «استاد خلیلی چرا کتاب عیاری از خراسان را نوشت؟»( افغان جرمن ان لاین آرشیف، سیستانی ۴۷۹ مقاله) میدان ته راویستل شوله اود هغو یو شمېر افغان لیکوالانو لکه: ولي احمد نوري، احسان الله مایار، جلیل غني، رسول رهین او داسی ورته نورو پرمخ څه پاتې نه شول، چې د خلیل الله خلیلي افغان ملت ته خاین نوم یې د هغه د شعري استعداد تر شاه پټ کړی وه...؟!

آیا داسی افغاني شخصیتونو ته هم، اوس د دغو تاریخي حقایقو پر بنسټ لازمه نه ده، چې د افغانستان د ډېرځپل شوي ملت نه یو لیکلی معذرت وغواړي...؟!.

سقاو زوی حبیب الله د خپلې وحشي واکمنی په پیل کې د غازي امان الله خان د وژلو او سر د راوړلو ته یې عملي اقدام کوي او د ۱۶۰ زرو روپیو انعام ورته ټاکي. کاتب لیکي: « سقو موسی خان قندهاری رئیس شرکت تجارت افغان و آلمان را با هفت نفر دیگر از قندهاریان به قتل امان الله



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خان بر انگیخته و به مژده و نوید عطای زیادی ایشانرا تطمیع و مامور کرد که او را هلاک سازند»(سرچینه: فیض محمد کاتب، تذکر انقلاب ۱۴۳ مخ)

زما لیکونکي لپاره مهمه او په زړه پوري ده، وپوهیږم، چې:

۱- ولي موسی خان سوداګر، چې کافي مالي او اقتصادي امکانات يې لرل، او د سقاو زوی حبیب الله پیسو او انعام ته محتاج نه وه، حاضر شو د افغانستان د استقلال محصل او یو منور او ترقي پال افغان پاچا اعلیحضرت غازي امان الله خان ترور کړي؟

۲- د موسی خان د دشمني علت د غازي امان الله خان سره په څه کې وه؟

۳- غازي امان الله خان په هر لحاظ په سقاو زوی مزید او بر لاسی لاره او بې له شکه سوداګر موسی خان هم په دې حقیقت پوهیده، آیا هغه دا کار د نورو ډېرو پیسو د تر لاسه کولو لپاره کاوه، یا دا، چې خپله شتمني نوره هم ډېره کړي، چې هغه تن داسی یو ملي جنایت ته ورکاوه؟

۴- آیا غازي پاچا کوم ظلم او ستم د موسی خان په حق کې تر سره کړی وه او هغه غوښتل، په دغه موقع خپل غچ واخلي؟

۵- که غازي پاچا پر دغه سوداګر کومه ناروا کړي وي، هغه به کومه وي، چې تاریخ يې له ثبت کولو غلی پاتی شوی دئ؟

۶- ولی د هغه وخت د قندهاري سوداګرو نه کوم بل تن حاضر نشو، چې غازي امان الله د غله سقاو زوی په ګټه قتل کړي؟

۷- څه څیزونو او علتونو موسی خان دې ته اړ باسه، چې د اعلیحضرت امان الله خان په وژلو سره دښمن انګلیس او د سقاو زوی خوشحاله کړي او د هغه منور مسلمان او ملي افغان زعیم پلویان او دوستان، د غم په ټغر کښېناوي؟

۸- آیا هغه نور ورسره اوه کسان هم قندهاري سوداګر ول او که عادي کسان ول؟

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ